مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړونکی: رڼاګل اریوبزی ۲۰۲۲/۰۹/۰۸

# ځلور ملګري

## د ماشومانو له پاره لنډه کیسه

یو وخت په یوه واړه کلي کې ځلور ملګري اوسید ل. د دوی په خپلو کې له وړوکتوپه یوه بل ته نږدې او خواږه ملګري وو، نو ځکه یې ډیر وخت یو ځای سره تیراوه. د دې ځلورو نه درې ملګري یې په خپله پوهه ډیر مغرور وو. دوی په بیلابیلو پوهنیزو څانګو کې زده کړې کړې وې اوفکر یې کاوه چې په هر څه پوهیږي. څلورم ملګري یې چې ګوپال نومیده، دومره ډیر کتابونه نه وو لوستلي، خو هغه یو بل ځانګړی خصوصیت درلود. دی په ورځنیو چارو کې دښې بوهې خاوند و. یوه ورځ ځلور واړو ملګرو د خپلې راتلونکې په باره کې بحث او خبرې اترې کولې. لومړي ملګري یې و ویل چې:« نړۍ ته دخپلې پوهې او قابلیت ارزښت ور ښکاره کړو تر څو چې له دې لارې یو څه پیسې وګټو.» دوهم ملګري یې وویل چې:« په دې وچ او ستومانوونکي کلي کې پاتې کیدل کومه ګټه نه لري، موږ باید نورو هیوادونوته ولاړ شواو هلته هغه مشهور اومعتبر خلک وپیژنو چې، د دوی سختو او له معما ډکو پوښتنو د ځواب ور کولو په صورت کې، ښې پیسې راکړي.» دریم یې د دو نورو خبرې ومنلې او ویې ویل چې دا ښه فکر دې، کیدای شي چې بادشا به مو هم وپیژني.»
خو لومړي ملګري ګوپال ته مخ واړوه، ورته ویې کتل او بیایې و ویل چې:« تر هغه چې په دې ډول ناپوه او بط تعلیمه انسان زموږ سره وې، نو څنګه کولی شو چې ځانونه هوښیاران او د لوړو زده کړو خاوندان وښیو، زما وړاندیز دادی چې هغه به په دې ځای کې پریږدو.» دوهم ملګري و ویل چې داسمه ده! هغه به زموږ چانس له ګواښ سره مخامخ کړي، له ځان سره بیول یې هیڅ ګټه نه لري.» خو دریم ملګري یې د نورو دوو په نیت نیوکه وکړه او ویې ویل چې:« موږ باید دا کار ونه کړو، موږ خو په خپلو کې ښه ملګري یو، باید هغه له ځان سره بوزو.» په بله ورځ ځلورواړه روان شول، دوی په ځنګل کې روان وو چې ناڅاپه د لومړي ملګري پښه دمړشوي ژوي د وچ هډ وکي په شان له یوه شي سره ولګیده اونږدې و چې په مځکه ولویږي. ده خپلو ملګرو ته په ډ یر غرور و ویل چې:« تم شی! دا زموږ د پوهې دازموېلو تر ټولو ښه چانس دی. راځی چې دا هډ وکی راژوندی کړو! زه د خپلې پراخې او زورې پوهې له مخې په دې پوهیږم چې هډ وکي په څه ډول د بد ن په شان بند په بند ترتیب کید لی شي.»
دوهم ملګري په بیړه و ویل چې:« زه به یې پوست ، غوښه او وینه ورته پیدا کړم.» او دریم وویل چې:« سا یې یوازې زه بدن ته ورکولیشم.» په دې ډول یې لومړي ملګري دهډ وکو نه سکلیټ ( بد ن ) جوړ کړ،دوهم یې پوست، غوښه او وینه ورجوړ کړل، خو کله چې دریم ملګري یې ژوی را ژوندی کاوه، ګوپال ور ناره کړهچې:« ای هوښیارانو تم شی، ایا پوهیږی چې په څه لګیا یاست؟ دا ژوی چې تاسې یې را ژوندی کوی، یو مزری دی او مزری باید را ژوندی نه کړی.» خو دریم ملګري ورته و ویل چې ولې نه، زه همدا مزری راژوندی کوم اوزه یې ژوندی کولی شم.» ده د ګوپال نظرته کوم ارزښت ورنه کړ. ګوپال ورته و ویل چې:« داسې وي نو لږ صبر وکړي.»دی یوې لویې ونې ته ور پورته شو. دریم ملګري جادو پیل کړ، « جنتر منتر،را پاڅیږه ای مزریه !» یې و ویل. مزری وخوځید او دا ډارووونکۍ ژوی ژوندی شو. ملګرو دخوشالې چیغې پرته کړې او په دې وخت کې مزری په رمباړو شواد په دوی یې ور ودانګل. ډار شوو ملګرو هیڅ فکر نه کاوه چې داسې پیښنه په را منځ ته کیږي.مزري ور پسې منډې وهلې او دوی ترې په ترپکو تیت او پرک شول. ګوپال دا پیښه ولیده، وډارشو او څه شیبه وروسته د ونې نه راکوز شو. دی هلته تم پاتې شو تر څو چې ملګري یې راشي. په دې بله ورځ یې ملګري ستړي ستومان بیرته راغلل، دګوپال نه یې بخنه وغوښته او ډاډ یې ورکړ چې په راتلونکې کې به د ده مشورې دراناوی کوي.

Bina Ghosh, Kalkutta, Indien



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ